UNAMA

د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره

د استراتیژیکو اړیکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان

مطبوعاتی اعلامیه

http://unama.unmissions.org

**ملګري ملتونه په لوګر کې په عامه روغتون باندې برید غندي**

۲۵ جولای، ۲۰۱۱، کابل: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د لوګر ولایت د ازرې په ولسوالی کې په عامه روغتون باندې برید په کلکه سره غندي چې نن ورځ وشو او د زیات شمیر ملکی کسانو په ژوبلې او مرګ باندې تمام شو.

یوناما په دې ټینګار کوي چې په روغتونونو باندې بریدونه د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې په پریکنده ډول منع دی. د کلنیکونو او روغتونونو ټول طبي کارمندان په ټولو شرایطو کې خوندي وسائل شي او د هغوي درناوي وشي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی ستفان دي میستورا وویل: "دغه په ملکی کسانو باندې، چې د درملنې په لټه کې وو، یا د ناروغانو د کورنیو غړي او یا روغتیایي کارمندان و، ځانګړی برید و. په روغتون کې د زیږنتون وارډ تر ټولو زیات زیانمن شوی و او په وژل شویو او ژوبلو کسانو کې د ښځو او ماشومانو شمیر زیات و."

یوناما په دې ټینګار کوي چې د شخړې د یوې خوا په څیر ټول د دولت ضد عناصر د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې ښکاره مسئوولیتونه لري چې ملکي کسان وژغوري او په هغوي برید و نه کړي.

دي میستورا وویل: "د ملګرو ملتونو په استازیتوب زه هغو کسانو کورنیو ته چې خپل ژوند یې له لاسه ورکړی دی خپله همدردي وړاندې کوم او د ژوبل شویو کسانو لپاره د روغتیا هیله کوم."

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**